# د درسي ټولګي پر مدیریتي سبکونو د استادانو د زده‌کړو کچې، علمي رتبې او تجربې د اغېز څېړنه موردي مطالعه؛ کابل پوهنتون ۱۳۹۸

**پوهنمل محمد طاهر خپلواک**

د روانپوهنې او روزنیزو علومو څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځي، لوګر پوهنتون، لوګر، افغانستان

ایمیل: tahirkhpalwak@gmail.com

**لنډیز**

د درسي ټولګي پر مدیریتي سبک د استادانو د زده‌کړو کچې، علمي رتبې او تجربې اغېز، څېړنه په کابل پوهنتون کې شوې، اصلي موخه يې د استادانو غالب مدیریتي سبک پېژندل اوپر مدیریتي سبک د زده‌کړو کچې، علمی رتبې‌او تجربې اغېزڅېړل دي. څېړنه د مېتود له‌نظره رابطه‌یي، د موخې‌له نظره کاربردي، اطلاعاتو له اړخه کمي او د ځای له‌نظره ساحوي ده. دڅېړنې ګډونوال، دکابل پوهنتون استادان دي، چې شمېر يې ۹۰۷ تنه( ۷۱۷ نارینه او ۱۹۰ښځینه) دي، چې ۲۷۰ تنه‌نمونه ټاکل شوې. اطلاعات د پوښتنپاڼې پرمټ راټول او د(SPSS) پرمټ تحلیل شوي. پایلو وښوده چې د استادانوغالب مدیریتي سبک(مداخله‌ګرسبک) دی. دوکتورا استادان تر ډېره تعاملي سبک ته؛ خو ماستر او لېسانس استادان مداخله‌ګر سبک ته تمایل لري. پوهیالي، پوهنیاران او پوهندویان ډېری تعاملي سبک لري؛ خو پوهنملان، پوهنوالان او پوهاندان بیا مداخله‌ګر سبک ته تمایل لري. د استادانو د تجربې او درسي ټولګي مدیریتي سبک ترمنځ معنالرونکې اړیکې شتون نه‌درلود.

**کلیدي اصطلاحات**: درسي ټولګی؛ مدیریتي سبک؛ استادانو زده کړو کچه؛ استادانو علمي رتبه؛ او استادانو د خدمت موده

# Investigating the Effect of Professors' Education Degree, Scientific Rank, and Experience on Classroom Management Styles; Case Study: Kabul University 2020

**Sr Teaching Asstt. Tahir Khpalwak**

Department of Psychology and Educational Sciences, Faculty of Psychology, Kabul University, Kabul, Afghanistan

Email: tahirkhpalwak@gmail.com

**Abstract**

The title of this study is "The Effect of Professors' Education Degree, Academic Rank, and Experience on Classroom Management Styles at Kabul University". The study used a correlational, quantitative, and applied research design. The data were collected through a questionnaire from 270 professors (717 men and 190 women) out of 907 at Kabul University. The data were analyzed using SPSS24 software. The findings revealed that the most common classroom management style among the professors was interventionist. The professors with PhD degrees were more likely to adopt an interactionist style, while those with Master and Bachelor degrees were more inclined to use an interventionist style. The academic rank also influenced the classroom management style, with teaching assistants and assistant professors (higher rank) favoring an interactionist style, and assistant professors (lower rank), associate professors, and professors preferring an interventionist style. The experience of the professors did not show a significant relationship with their classroom management style.

**KeyWords**: Classroom, Management Style; Education Degree; Academic Rank; Experience

**سريزه**

استادي او درس ورکول له سختو او پېچلو چارو څخه ګڼل کېږي؛ ځکه په تدريس کې پر تخصصي پوهې او معلوماتو سربېره، هر استاد بايد د تدريس له هنر او تجربې څخه هم برخمن وي. د استادۍ لپاره مختلف مهارتونه مهم دي، يو له هغو مهارتونو څخه د د درسي ټولګي د مديريت مهارت دی(افشارنيا او همکاران، ۱۳۹۷). په تدريس کې د استادانو تخصص هله ښه اغېز لرلای شي، چې په درسي ټولګي کې مناسب مديريتي سبکونه وکاروي. د ښه ښوونکی او استاد له ځانګړنو څخه يوه دا ده، چې په تعاملي ډول ټولګی مديريت کړي. د درسي ټولګي سالم مديريت هغه بهير دی، چې له زده‌کوونکيو سره په ټولو برخو( فېزيکي، هيجاني، معنوي، عقلي او چاپېريالي) کې مرسته کوي او د هغوی د ودې او پرمختګ لپاره فرصت برابروي(ناکامورا، ۲۰۰۰). کولای شو، د زده‌کړې لپاره د لازمو شرايطو برابرول» د درسي ټولګي مديريت تعريف کړو؛ نو دا پايله ترلاسه کولای شو، چې د درسي ټولګي مديريتي سبکونه او مهارتونه په تدريس کې د هر اړخيز بریالیتوب بنسټ دی(افشارنيا او همکاران، ۱۳۹۷، ۷۵مخ). په درسي ټولګي کې د استاد مديريتي سبک له هغو عواملو څخه دی، چې د محصلانو په انګېزش او زده‌کړه ييز پرمختګ کې مهم رول لرلای شي(سيف، ۱۳۸۸). د اغېزناک تدريس او زده‌کړې لپاره، په درسي ټولګي کې د استاد مديريتي سبک مهم‌والي ته په پام سره او دا چې په ياده برخه کې څېړنې نه دي ترسره شوي؛ نو د د درسي ټولګي پر مديريتي سبکونو د استادانو د زده‌کړو کچې، علمي رتبې او تجربې اغېز معلوملو په موخه دا څېړنه په کابل پوهنتون کې شوې ده.

**د مسئلې بيان**

څېړنې ښيي چې په درسي ټولګي کې د کړنو مديريت د ښوونکيو پر وړاندې يوه له تر ټولو لويو ستونزو څخه ده. د څېړنو پر بنسټ د ښوونکيو په کاري چاپېريال کې تر ټولو ډېر سټرېس لرونکی عامل، د زده کوونکيو انضباطي ستونزې دي(مصر ابادي، ۱۳۹۴، ۱۹۰ مخ). په برېتانيا، نيوزيلنډ، استراليا او امريکا کې شويو څېړنو کې د ټولو ښوونکيوله ۱ پر ۳ برخې سره مرکې شوې، هغوی تدريس يو سټرېس لرونکی فعاليت بللی(پيټرسون او سوډن، ۱۹۹۸). د درسي ټولګي مديريت د ښوونکي د هغو کړنو څخه دی، چې تر ټولو ډېر وخت نيسي. کله چې د ټولګي ډېر وخت په انضباطي ستونزو تېرېږي، په عملي ډول د تدريس او زده‌کړې لپاره لږ وخت پاتې کېږي(افشارنيا او همکاران، ۱۳۹۷، ۷۳مخ). د درسي ټولګي د عناصرو له منځه، د استاد او مديريتي سبک رول، د ښوونيزو موخو په ترلاسه کولو او د ننني نړۍ سره متناسب زده کوونکيو روزلو کې ډېر مهم او بنسټيز رول لري. ښوونکي په درسي ټولګيو کې بايد د زده کوونکيو د شخصيتي ځانګړنو متناسب مديريتي سبکونه او تدريس مېتودونه په داسې ډول

وټاکي چې زده‌کوونکي په درسي ټولګي کې دا فرصت پیدا کړي، چې د عمل له لارې مختلف مهارتونه زده کړي(خلباني او همکاران، ۱۳۸۹).

د درسي ټولګي ناسم مدیریتي سبک د ټولو زده کوونکیو په زده‌کړه کې د ګډوډۍ(اختلال) سبب کېږي. زده‌کوونکي د زده‌کړې ډېرى وخت له دې امله له لاسه ورکوي، چې ښوونکی له (۵۰) سلنې ډېر وخت د زده کوونکیو د کړنو په مدیریت او د ټولګي په کنټرول تېروي(آدیمو، ۲۰۱۲). په همدې دلیل، د لانګ، فریاو وین استین په خبره، د «ټولګي مدیریت» د زده‌کړې په موخه د تر ټولو ښه چاپېریال رامنځته کول، د ښوونکیو په ټولو مسئوولیتونو کې لومړیتوب لري(مارتین او شوهو، ۲۰۰۳).

پوهانو د درسي ټولګي مدیریتي سبکونه ډلبندي کړي دي. د هغوی له ډلې ولفګانګ او ګلېکمن په خپل کتاب «د ټولګي د انضباطي مسایلو حل» کې د ټولګي مدیریتي سبکونه په درې برخو وېشلي دي: مداخله ګر سبک، نامداخله ګر سبک او تعاملي سبک. په دې سبکونو کې هرڅومره چې له مداخله‌ګر سبک څخه د غیر مداخله‌ګر سبک خوا ته نیږدې کېږو، د کنټرول کچه لږېږي او په مقابل کې د زده کوونکیو مسئولیت او ګډون په ټولګي کې زیاتېږي(عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ۱۰۸ مخ).

په افغانستان کې د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو برخه کې څېړنه نه ده شوې. معلومه نه‌ده چې د پوهنتون، په تېره د کابل پوهنتون استادان کوم مدیریتي سبک کاروي. بلخوا، د استادانو دموګرافیکي ځانګړنې د درسي ټولګي پر مدیریتي سبک څه اغېز لري. نو د همدې مسئلې روښانولو او حل لارو وړاندې کولو لپاره یاده شوې څېړنه، د کابل پوهنتون استادانو غالب مدیریتي سبک پېژندلو او د درسي ټولګي پر مدیریتي سبکونو د استادانو د زده‌کړو کچې. علمي رتبې او خدمت مودې (تجربې) اغېز څېړلو په موخه په کابل پوهنتون کې ترسره شوې.

**د څېړنې اهمیت او اړتیا**

د هر نظام کیفیت د هغه د ښوونیز او زده‌کړه‌ییز نظام کیفیت سره تړاو لري او د هر ښوونیز او تحصیلي نظام کیفیت د هغوی د ښوونکیو او استادانو د کار په کیفیت پورې تړلی دی(شمس، ۱۳۹۶، ۸ مخ). بې له شکه چې د ښوونې ـ روزنې او تدریس موخو ترلاسه کولو لپاره، د شرایطو برابرښت اړین دی. د دې شرایطو له ډلې پر درسي ټولګي حاکم نظم ـ انضباط او مدیریت ته اشاره کولای شو؛ ځکه هغه ټولګی چې د زده‌کړې لومړنی ګام(نظم او انضباط، په فعالیتونو کې د زده کوونکیو فعال ګډون او فعاله توجه) پکې تأمین نه شي، په یقین سره چې مطلوبې پایلې او موخې نه ترلاسه کېږي(محمودي او همکاران، ۱۳۹۶، ۲۳مخ). د درسي ټولګي مدیریت، د ښوونیز مدیریت لومړۍ سطح ده، چې د لوړو سطحو پایه او بنسټ ګڼل کېږي، او د تدریس په بهیر، د زده کوونکیو د شخصیت په جوړښت، د

هغوی د ذهني، عاطفي، ښوونیز او روزنیز بهیر او ښوونیز نظام په کیفي لوړاوي کې بنسټیز رول لري(غیاث وندیان او همکاران، ۱۳۹۶، ۱۴ مخ).

څېړنې ښیي چې په درسي ټولګي کې د استادانو د رهبرۍ او مدیریت سبکونه د زده کوونکیو په بریالیتوب، زده کړه ییز پرمختګ، درسي بوختیا او انګېزې ایجادولو کې بنسټیز رول لوبوي(کاظمي او همکاران، ۱۳۹۴، ۳۲ مخ). او په زده کوونکیو کې د انګېزې رامنځته کولو په موخه د درسي ټولګي مدیریتي سبک خورا مهم عنصر دی(جویس، ۱۳۷۶، ۷۷مخ). هغه څېړنه چې د وانګ، هرتل او والبرګ په وسیله په (۱۳۹۳) کال کې ترسره شوې، پایلې یې ښیي. چې د درسي ټولګي مدیریتي سبک هغه عامل دی چې پر زده کړه تر ټولو ډېر اغېز لري. که استاد په اغېزناک ډول د درسي ټولګي مدیریت وړتیا ونه لري، لرې نه ده چې نور مهارتونه به یې بې اغېزې شي.

دا څېړنه ځکه مهمه ده چې لومړی تر اوسه د هېواد په دننه کې په دې برخه کې هېڅ څېړنه نه ده ترسره شوې، په داسې حال کې چې د استاد د تدریس او زده کوونکیو د زده کړو کیفیت لپاره د درسي ټولګي مدیریتي سبک تر ټولو مهم عنصر دی. بل دا چې د دې څېړنې په ترسره کېدو سره به مسئله روښانه شي چې د کابل پوهنتون استادانو د درسي ټولګي غالب مدیریتي سبک کوم دی او د استادانو ځانګړنې د درسي ټولګي مدیریتي سبک سره څه ډول اړیکه لري؟ د دې متغییرونو د اړیکو په اړه د علمي څېړنو نه شتون، دا ایجابوي چې یاده څېړنه ترسره شي. همدا راز، یاده څېړنه د ټول پوهنتون او استادانو لپاره خورا ارزښت لري او د څېړنې له پایلو څخه هم استادان او هم پوهنتون ګټه اخلي.

**څېړنموخې**

**اصلي موخه:** د کابل پوهنتون استادانو د درسي ټولګي غالب مدیریتي سبک پېژندل او د درسي ټولګي پر مدیریتي سبک د استادانو د زده کړو کچې، علمي رتبې او تجربې اغېز څېړل.

**د څېړنې فرعي موخې**

۱. د دوکتورا، ماسټر او لېسانس استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک ترمنځ توپیر معلومول؛

۲. د علمي رتبې له مخې د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک ترمنځ توپیر معلومول ؛

۳. د استادانو د خدمت مودې(تجربې) او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ اړیکه معلومول.

**د څېړنې پوښتنې**

**اصلي پوښتنه:** د استادانو د درسي ټولګي غالب مدیریتي سبک کوم دی او د درسي ټولګي پر مدیریتي سبک د استادانو د زده کړو کچه، علمي رتبه او تجربه څه اغېز لري؟

**فرعي پوښتنې**

۱. ایا د دوکتورا، ماسټر او لېسانس استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک ترمنځ توپیر شته؟

۲. ایا د علمي رتبې له مخې د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک ترمنځ توپیر شته؟

۳. ایا د استادانو د خدمت مودې او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ معنالرونکې اړیکه شتون لري؟

**د درسي ټولګي مدیریت معنی او مفهوم**

درسي ټولګی هغه ځای دی چې هره ورځ ګڼ شمېر زده‌کوونکي پکې په ساعتونو یو د بل ترڅنګ کښېني، یو له بل سره تعامل ولري او یو له بله مختلف موضوعات زده کړي.

د ټولګي مدیریت، د یوې مناسبې فضا رامنځته کول دي، چې زده‌کوونکي پکې په ډېره ارامۍ او نظم زده‌کړه وکړي. یا د درسي ټولګي مدیریت له ګڼ شمېر پلانونو او اقداماتو څخه عبارت دی، چې ښوونکی یې په درسي ټولګي کې د زده‌کړې د اسانتیا او چټکتیا لپاره ترسره کوي(مرتضوي زاده، ۱۳۹۲؛ د رئوفي، ۱۳۸۰ له قوله). د درسي ټولګي مدیریت، د اغېزناکې زده‌کړې لپاره یوه اړتیا او مقدمه ده(مرتضوي زاده، ۱۳۹۲، ۲۳۵مخ).

یو شمېر ښوونکي مدیریت او انضباط یو ډول بولي؛ خو اړینه ده چې ووایو مدیریت او انضباط یو له بل سره توپیر لري. انضباط د زده کوونکیو سکوت او ارامي او د ښوونکي خبرو ته غوږ نیول نه دي. ځکه چې د ټولګي فضا باید متنوع، دوستانه او له مینې ډکه وي، په داسې ډول چې هر زده‌کوونکی د ارامۍ احساس وکړي او له ټولګي سره تړاو ولري. انضباط د ښوونکي هغو کړنو ته ویل کېږي، چې د زده کوونکیو د اخلالګرو کړنو مانع ګرځي. هغه کړنې چې د ټولګي فعالیت له خنډ او ګواښ سره مخ کوي. د درسي ټولګي مدیریت د درسي ټولګي د انضباط په نسبت پراخ مفهوم لري؛ ځکه چې ترسره شویو مطالعاتو ته په کتو، د درسي ټولګي د مدیریت څخه منظور، د داسې شرایطو او موقعیتونو ایجادول دي، چې ښوونکی یې د نظم او ارامۍ د رامنځته کولو، زده کوونکیو د توجه جلبول، د درسي فعالیتونو د تنظیمولو او د زده‌کړې په بهیر کې د زده کوونکیو د ګډون لپاره، مطلوبو او پام وړ موخو ته د رسېدلو لپاره برابروي(مرتضوي زاده، ۱۳۹۲، ۲۳۶ مخ).

ولفګانګ wolfgang او ګلیکمن Glicman (۱۹۸٦) د درسي ټولګي مدیریت جامع او دقیق تعریف وړاندې کړی؛ د هغوی په خبره (د درسي ټولګي مدیریت، یعنې د ټولګي ټول فعالیتونه«ټولنیز تعاملات، زده کوونکیو کړنې او زده‌کړه» د سرپرستۍ لپاره د ښوونکي ټول کوښښونه دي)(ظریفي او فرجي، ۱۳۹۳، ۴۱ مخ). ولفګانګ او ګلېکمن، د ټولګي مدیریت لپاره څلور اړخونه په پام کې نیولي

دي، چې عبارت دي له: رواني چاپېريال«د زده کوونکيو تعاملات»، تعليم«دتدريس منظموالی»، اړيکې«فيډبک سيستم» او د ټولګي جوړښت«قوانين او ستونزې».

## د درسي ټولګي مديريت سبکونه

ولفګانګ، د درسي ټولګي د مديريت درې سبکونه وړاندې کړي، چې عبارت دي له: مداخله ګر سبک، تعاملي سبک او غير مداخله ګر سبک. په دغو سبکونو کې هر څومره چې د مداخله کولو څخه د نه مداخلې خوا ته لاړ شو، د کنټرول کچه لړ او په مقابل کې په درسي ټولګي کې د زده کوونکيو ګډون او مسئوليت زياتېږي(امين يزدي او عالي، ۱۳۸۷). لاندې هر سبک په لنډ ډول تشريح شوی دی.

### مداخله‌ګر سبک

مداخله‌ګر سبک، د غير مداخله‌ګر سبک پر وړاندې ځای لري. د دغه سبک له مخې، بهرنی چاپېريال، ودې ته شکل ورکوي يا وده رامنځته کوي. عملي مکتب«رفتار ګرايي» د دغه سبک تئوريک بنسټ دی. د سکينر او پاولوف نظريه له لومړنيو نظريو څخه ده، چې په ارواپوهنه کې منځته راغلې. کلاسيک شرطي کېدل، فعال شرطي کېدل، تنبيه، تقويت، محرک او ... د دې مکتب کليدي اصطلاح ګانې دي. رفتار پلوه ښوونکی د زده کوونکيو د بدو کړنو علت، د بهرني چاپېريال اغېز بولي او د دې باور پر بنسټ کوښښ کوي چې د زده‌کوونکي کړنې د تغيير او ښه والي خوا ته هدايت او کنټرول کړي. د مداخله ګر سبک پر بنسټ د ټولګي مديريت له مشهورو نظريو څخه يوه د لي‌کانټر د«جرأت ورکولو انضباط » نظريه ده. د ده په عقيده يو جرأت ورکوونکی استاد، هغه استاد دی چې خپلې غوښتنې په څرګند او روښانه ډول بيانوي او د هغوی د ترسره کولو او يا نه ترسره کولو له پايلو خبر وي او په تېروتنو سترګې نه پټوي. د هر انضباطي سيستم اغېزناک‌توب، د ښوونکي او زده‌کوونکي په مؤدبانه او مرستندويه اړيکو ساتلو پورې تړلی.

مداخله ګر ښوونکی هڅه کوي چې د زده کوونکيو د فعاليتونو او کړنو په کنټرول او څارنې سره او يا هم د ټولګي په انضباط او قوانينو د تأکيد له لارې ښوونيزې موخې ترلاسه کړي(عالي او يزدي، ۱۳۸۵، ۱۱۴- ۱۱۵ مخونه؛ د بيلي، ۲۰۰۰ له قوله). مداخله‌ګر ښوونکی د انضباطي قوانينو په تعيينولو او اجرا سره، د زده کوونکيو د نامطلوبو کړنو د کمولو او درسي ټولګي تصميم نيونو کې د زده کوونکيو د نه ګډون لپاره د ټولګي د اداره کولو او زده کوونکيو پر کړنو د څارنې مسئوليت پر خپله غاړه اخلي. په دې ډول فضا کې زده‌کوونکي هېڅ واک او مسئوليت نه احساسوي او په دې اند دي، چې يوازې ښوونکی کولای شي د هغوی کړنې کنټرول، نظارت او اصلاح کړي(رضايت او ګلي، ۱۳۹۵، ۵۷ مخ).

**تعاملي سبک**

تعاملي سبک د مداخله‌گر او غیر مداخله‌گر سبکونو تر منځ منځنی حد دی. دا سبک د ټولنیزې اروا‌پوهنې مکتب پر بنسټ پر هغو کړنو ټینګار کوي، چې فرد یې د چاپېریال د بدلون لپاره ترسره کوي او هم چاپېریالي عواملو ته پام کوي، چې پر فرد اغېز کوي. د تعامل پلوه سبک نظري اصول، الفرد آدل او درېکرز پراخ کړي او ویلیام ګلسر د دې سبک نظري چوکاټ منځته راوړی دی. د آلبرټ (۱۹۸۹) د (مشارکتي انضباط نظریه) او ګودرکول (۱۹۹۰) قضاوتي انضباط دواړه د تعاملي تفکر پر بنسټ د ټولګي مدیریت موډلونه دي(عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ۱۱٦ مخ؛ د مارتین او بالدوین، ۱۹۹٦ له قوله). ګلسټر ټینګار کوي چې زده‌کوونکي په ښوونځي کې د زده‌کړې مسئول دي او ښوونکی باید له هغوی سره مرسته وکړي، څو ښې کړنې ترسره کړي. د ګلسټر په نظریه کې د مناسبو یا نامناسبو کړنو په اړه د ټولګي قوانین د ټولګي په مشارکتي غونډه کې ټاکل کېږي. په دې ډول ټولګي کې، کنټرول او انضباط د ښوونکي او زده کوونکیو تر منځ د یو متقابل بهیر په ډول منځته راځي او زده‌کوونکي د ټولګي په پلانونو او نظم کې ونډه لري. ښوونکی زده کوونکیو ته فرصت ورکوي، چې پر خپلو کړنو څارنه او په اړه یې قضاوت وکړي. په دې ډول ټولګي کې ارزونه هم د یوې دوه طرفه مذاکرې په جریان کې ترسره کېږي(عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ۱۱۵ مخ؛ د ګسټر، ۱۹٦۹ په قول). تعاملي سبک کې، نه د مداخله ګر سبک په ډول، معلم ـ محور دی او نه د غیر مداخله ګر سبک په ډول شاګرد- محور؛ بلکې مرسته محور دی، چې مرسته او همکاري پکې بنسټیز اصل دی(عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ۱۱۵مخ). دغه سبک ته په کتو سره، تعاملي ښوونکی هغه څوک دی، چې د ټولګي مسایل له زده کوونکیو سره د مذاکرې او منطقي استدلال له لارې حلوي(عالي او امین یزدي، ۱۳۸۷).

**نامداخله‌گر سبک**

په غیر مداخله ګر سبک کې د انسان پلویانو د باور پر بنسټ ویل کېږي، چې ماشوم د ریښتینې نړۍ د پېژندلو لپاره داخلي انګېزه لري او بهرني تحریک ته اړتیا نه لري؛ ځکه چې وده تر غریزې لاندې منځته راځي. د کارل راجرز په انسان پلوي سبک کې په «غیر مشروط مثبت پام» او منلو ټینګار شوی دی. د مور یا ښوونکي لخوا د ماشوم منل او مینه مثبت او غیر مشروط دي، یعنې د ماشوم په ښه یا بده کړنه پورې نه دي مشروط. راجرز دغه پام د هر اړخیزې ودې او ځان غوړېدنې لپاره لازم او اړین ګڼي؛ یعنې انسان پلوه ښوونکی، زده کوونکیو ته نه وایي چې څه سم او څه ناسم دي، یا د مسئلې د حل لپاره باید څه ترسره شي؛ ځکه ښوونکی باور لري چې زده‌کوونکي پخپله د زده‌کړې او خپلو کړنو د کنټرول وړتیا لري. یو غیر مداخله ګر ښوونکی باور لري، چې زده کوونکیو ته باید فرصت او وخت ور کړل شي،

چې خپله انتخاب وکړي او خپلې زده‌کړې مدیریت کړي، البته دا د مطلقې ازادۍ په معنا نه ده، بلکې زده کوونکیو ته اجازه ورکوي چې د مطالعې موادو په ټاکنه، د مطالعې او تدریس مېتود په تعیینولو او ټولګي نظم ساتلو کې ګډون ولري (عالي او یزدي، ۱۳۸۵). په لنډ ډول، په غیر مداخله ګر سبک کې ښوونکی په دې باور دی، چې مسئولیتونه باید زده کوونکیو ته ور وسپارل شي، ترڅو هغوی په ټولګي کې د ازاد تعامل لپاره ډېر فرصت ولري او د خپلو علایقو څخه پیروي وکړي (رضایت او ګلي، ۱۳۹۵، ۵۷ مخ).

**د څېړنې مخینه**

شنبدي (۱۳۷٦) او فرخ نژاد (۱۳۸۰) دواړو څېړونکو «د مدیرانو له نظره د درسي ټولګي پر مدیریت اغېزناک عوامل» څېړلي دي، چې موخه یې د درسي ټولګي د څلورګونو عواملو (۱. درسي پلان لرل او عملي کول، ۲. تدریس مېتودونه او تګلارې، ۳. رهبري، ترغیب او انګېزش او ۴. د زده کوونکیو پر کړنو دوامداره څارنه او ارزونه) د اغېز کچه معلومول دي. همدارنګه، د «جنسیت، تدریس سابقې، زده‌کړو ځانګه او زده‌کړو کچه» متغییرونو ته په پام سره د مدیرانو نظریاتو توپیر مطالعه کړی دی. د څېړنې پایلې ښیي چې د ذکر شویو متغییرونو پر بنسټ د مدیرانو نظریاتو تر منځ څلور ګونو عواملو ته په پام سره معنالرونکی توپیر ونه لیدل شو؛ خو ښځینه مدیرانو له نارینه مدیرانو ډېر د «رهبری، ترغیب، انګېزش او زده کوونکیو پر کړنو دوامداره څارنه او ارزونه» د ټولګي مدیریت د ښه والي په زیاتوالي کې اغېزناک بللي دی (عالي او یزدي، ۱۳۸۵، ۱۲۰مخ).

په هغه څېړنه کې چې د «د محصلانو له نظره د بېرجند طبي علومو پوهنتون د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي وضعیت څېړل» تر سرلیک لاندې، کاظمی، سیما؛ محمدي، یحیی او رئیسون، محمد رضا په کال (۱۳۹۴) کې په اېران هېواد کې ترسره کړې، لاندې پایلې یې ترلاسه کړې دي:

پایلې ښیي چې ډېری استادان په ترتیب سره له تعاملي سبک، مداخله ګر سبک او غیر مداخله ګر سبک څخه ګټه اخیسته. د درسي ټولګي مدیریت د مداخله ګر سبک، تعاملي سبک او غیرمداخله ګر سبک ترمنځ له جنسیت سره او د درسي ټولګي مدیریت تعاملي سبک او غیر مداخله ګر سبک ترمنځ له تحصیلي ځانګې سره معنا لرونکی توپیر شتون درلود؛ خو د درسي ټولګي مداخله ګر سبک له تحصیلي ځانګې سره معنالرونکی توپیر مشاهده نه شو (کاظمي او همکاران، ۱۳۹۴، ۳۱ مخ). د مهر، کریم زاده او ناظم، څېړنه چې د «د خوی ښار د ښوونکیو او مدیرانو د درسي ټولګي پر مدیریت د اغېزناکو عواملو پېژندنه» تر سرلیک لاندې یې په کال ۱۳۹۴ کې ترسره کړې، دا پایله یې ترلاسه کړې چې د ښوونکیو د کار سابقه د درسي ټولګي مدیریت پر سبکونو معنا لرونکی اغېز لري؛ خو دوی

ومونده چې د نارینه او ښځینه ښوونکیو د ټولګي مدیریت په سبک کې توپیر نشته( مهر او همکاران، ۱۳۹۴، ۱۸۰ مخ).

ظریفي او فرجي هم په کال ۱۳۹۳ کې د « د شرقي آذربایجان په ابتدایه او متوسطه دورو کې د بدني روزنې ښوونکیو د درسي ټولګي مدیریت پرتلنه » ترسرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې. موندنې یې ښيي، چې په ابتدائیه او متوسطه دورو کې ښوونکي په ترتیب د مداخله ګر، تعاملي او غیر مداخله ګر سبکونو خوا ته تمایل لري. له بلې خوا، د جنسیت پر بنسټ د بدني روزنې ښوونکیو د درسي ټولګي مدیریت سبک پرتلنه ښيي چې په مختلفو تحصیلي دورو کې د نارینه او ښځینه ښوونکیو د مدیریت سبک تر منځ معنا لرونکی توپیر نه‌شته. همداراز، د څوارلس پاس، لېسانس او ماسټر ښوونکیو مدیریتي سبکونه توپیر لري. څوارلس پاس ښوونکي تر ډېره تعاملي او مداخله ګر سبکونه کاروي او ماسټر ښوونکي ډېری تعاملي او غیر مداخله ګر سبکونو خوا ته تمایل لري(ظریفي او رضا، ۱۳۹۳؛۴۰، ۴۶ مخونه).

عالي او یزدي(۱۳۸۵) « د ټولګي پر مدیریتي سبک د معلم ځانګړنو اغېز» تر سرلیک لاندې څېړنه کې چې په مشهد ښار کې یې ترسره کړې، لاندې پایلې ترلاسه کړې:

د زده‌کړو کچې پر بنسټ د ښوونکیو د درسي ټولګي مدیریتي سبک ترمنځ معنالرونکی توپیر نه‌و؛ یعنې دلېسانس په کچه زده‌کړو لرونکي ښوونکي تر ډېره د ټولګي د تعاملي سبک خوا ته تمایل لري، په داسې حال کې چې دوولسم پاس ښوونکي له مداخله ګر سبک سره علاقه لرله. همداراز، د تحصیلي رشتې پر بنسټ د درسي ټولګي مدیریت سبک توپیر معنالرونکی دی؛ یعنې هغو ښوونکیو چې له ټولنیزو علومو سره مرتبط څانګو کې یې زده‌کړې کړې، له تعاملي سبک او هغوی چې په غیر ټولنیزو علومو څانګو کې یې زده‌کړې کړې، مداخله ګر سبک خوا ته تمایل لري؛ خو د درسي ټولګي مدیریتي سبک او ښوونکیو جنسیت ترمنځ معنا لرونکې اړیکه ونه لیدل شوه(عالي او یزدي، ۱۳۹۴، ۱۰۳مخ).

لنګرودي او سلېماني (۱۳۹۲)، (د دموګرافیکي ځانګړنو له مخې د درسي ټولګي مدیریت په اړه د ښوونکیو د باورونو او لرلیدونو پرتلنه) تر سرلیک لاندې څېړنه په ایران –یزد ښار کې ترسره کړې. پایلې ښيي چې د جنسیت له مخې د استادانو درسي ټولګي مدیریتي سبک توپیر نه لري. خو د زده‌کړو څانګې له مخې د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبک توپیر معنالرونکی دی. په بل عبارت، هغو ښوونکیو چې د ښوونې او روزنې اړوند څانګو کې یې زده‌کړې کړې دي، ډېری تعاملي سبک ته تمایل لري او هغه ښوونکي چې د ښوونې او روزنې نااړوند څانګو کې یې زده‌کړې کړې دي، ډېری د درسي ټولګي مداخله ګر سبک لري. همداراز، د زده‌کړو کچې له مخې هم د ښوونکیو د درسي ټولګي

مدیریتي سبک توپیر معنا لرونکی دی؛ په دې معنا چې لېسانس ښوونکي د دوولس پاس او څوارلسم پاس ښوونکیو په نسبت تعاملي سبک ته ډېر تمایل لري(لنګرودي او سلېماني، ۱۳۹۲، ۱۱۵مخ).

سید عباس، په خپله څېړنه کې وښوده، څومره چې د ښوونکي د تدریس سابقه، سن او زده‌کړو کچه لوړه وي، دا ډول ښوونکی پر ټولګي لږ کنټرول اعمالوي او زده کوونکیو ته په کړنو کې ډېره ازادي ورکوي؛ یعنې له غیر مداخله‌ګر سبک ګټه اخلي( مهر او همکاران، ۱۳۹۴، ۱۸۰ مخ).

علي(۲۰۰۷) په خپله څېړنه کې ومونده، چې د زده‌کړو کچې پر بنسټ د ښوونکیو د درسي ټولګي مدیریت سبک ترمنځ معنا لرونکی توپیر شته؛ یعنې هغه ښوونکي چې د لېسانس په کچه زده‌کړې لري، تر ډېره د درسي ټولګي مدیریت له تعاملي سبک سره تمایل او علاقه لري، په داسې حال کې چې د دېپلم سند لرونکي ښوونکي مداخله‌ګر سبک خوا ته تمایل لري. مارتین، بالدوین (۱۹۹۵) په خپله څېړنه کې وموندله چې د ښوونکیو د جنسیت او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو تر منځ معنا لرونکی توپیر نه‌شته(د امین یزدي او عالي، ۲۰۰۸ له قوله). جعفري او همکارنو یې په کال ۱۳۹٦ کې په اېران کې(دعلمي هیئت غړو د درسي ټولګي مدریت لرلید او درسي ټولګي مدیریتي وړتیا اړیکې د جوړښت نمونه) تر سرلیک لاندې څېړنه کړې، پایلې ښیي چې د استادانو د ټولګي مدیریت او علمي رتبې ترمنځ مثبته او معنالرونکې اړیکه شته(جعفري او همکاران، ۱۳۹٦، ۱٦ مخ).

د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو موضوع له هېواده بهر په پراخ ډول څېړل شوې ده، لېکن په دې برخه کې داخلي څېړنې په نشت حساب دي. په هېواد کې د ننه، د یادې موضوع په اړه د څېړنو موندلو په موخه ګڼ ځایونه و لټول شول لکه: کابل پوهنتون کې د ارواپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی، د اروپوهنې او رونیزو علومو پوهنځي د ماسټرۍ پروګرام د څو کلونو لیکل شوي تېزسونه او د یاد پوهنځي د استادانو علمي ترفېعاتو اثرونه او مقالې؛ کابل ښوونې او روزنې پوهنتون ماسټري پروګرامونو تېزسونه او د همدې پوهنتون د روزنیزو او مسلکي علومو پوهنځي او اروپوهنې پوهنځي د استادانو مقالې او علمي اثرونه او د ګڼو پوهنتونونو علمي مجلو کې د یادې موضوع او اړوند متغییرنو په اړه څه پیدا نه شول. یعنې په دې برخه کې هېڅ ډول څېړنه، نه‌ده شوې. البته کولای شو استدلال وکړو چې په څېړنه کې دا بې توجهي د ټولګي مدیریتي سبک نظري بحثونو او سرچینو کمښت له امله ده. له بل پلوه ډېرې موجوده سرچینو د ټولګي مدیریت موضوع په اختصاصي ډول نه ده راوړې؛ ځینو سرچینو د ټولګي مدیریت له تدریس مېتود سره په یوه معنا بللی او ځینې نورو د ښوونیز مدیریت برخه ګڼلې ده. دا د دې سبب شوي چې د ټولګي مدیریت موضوع ته په څېړنو کې ډېر پام نه دی شوی.

## د څېړنې کړنلاره

دا څېړنه د ماهیت او مېتود له نظره یوه توصیفي- تحلیلي (رابطه یي)، د موخې له نظره عملي، د ځای له نظره یوه ساحوي «میداني» او د اطلاعاتو راټولو مېتود له نظره یوه کمي څېړنه ده. یاده څېړنه په کابل پوهنتون کې په ۱۳۹۸ کال کې ترسره شوې. د څېړنې احصائیوي ټولنه د کابل پوهنتون ټول استادان دي؛ چې شمېر یې (۹۰۷) تنه دی، له دې ډلې «۷۱۷» تنه نارینه او «۱۹۰» تنه یې ښځینه دي. په دې څېړنه کې د نمونې حجم ټاکلو لپاره د کوکران فورمول څخه ګټه واخیستل شوه. له ټولټال «۹۰۷» تنه استادانو څخه چې د کابل پوهنتون په ټولو «۲۱» پوهنځیو کې دنده ترسره کوي، «۲۷۰» تنه د نمونې په توګه وټاکل شول، د اطمېنان کچه «۹۵» سلنه ده او د خطا کچه «۵» سلنه ده. د اطلاعاتو د راټولولو لپاره د ولفګانګ او ګلېکمن (۲۰۰۸) له پوښتنپاڼې کار اخیستل شوې ده. یاده پوښتنپاڼه پینځه ویشت (۲۵) تړلې پوښتنې او درې مؤلفې لري، چې عبارت دي له: مداخله‌ګر سبک Interventionist Style، تعاملي سبک Inter actionist Style او غیرمداخله‌ګر سبک Non-Interventionist Style. پوښتنپاڼه مخکې له دې چې ووېشل شي د کارپوه استادانو په‌وسیله اصلاح شوه او د هغوی نظریات پکې مراعات شول. وروسته په ازمایښتي ډول په ۴۰ تنو ګډون کوونکو ووېشل شوه او محتوایي صحت یې وسنجول شو.. کرونباخ الفا یې (۰،۷۸) معلومه شوه. را ټول شوي اطلاعات، د SPSS24 او EXCEL پروګرامونو په وسیله تجزیه او تحلیل شول.

**الف) د اطلاعاتو توصیفي شننه Descriptive Statistics**

په دې ځای کې د SPSS پروګرام څخه په ګټې اخیستنې اطلاعات په جدولونو او شکلونو کې طبقه بندي شوي دي. لومړی د ګډونوالو دموګرافیکې ځانګړنې او وروسته د څېړنې پوښتنې تجزیه او تحلیل شوې. پایلې یې په شکلونو کې ښودل شوې او لازم تشرېحات هم ورکړل شوي دي.

د ګډونوالو جنسیت

لومړی جدول: په څېړنه کې د ګډونوالو جنسیت

| | ښځینه | نارینه | ټولټال |
|---|---|---|---|
| شمېره | ۵۸ | ۲۱۰ | ۲۶۸ |
| سلنه | ۲۱.۶۴٪ | ۷۸.۳۶٪ | ۱۰۰.۰٪ |

پورتنی لومړی جدول ښیي، چې په څېړنه کې ټول (۲٦۸) کسانو ګډون کړی دی، چې (۲۱۰) تنه (۷۸.٦٪) یې نارینه او (۵۸) تنه (۲۱.٦٤٪) یې ښځینه دي. لاسته راغلې پایلې ښیي چې په یاده څېړنه کې اکثریت نارینه استادان او اقلیت ښځینه استادانو ګډون کړی دی.

په څېړنه کې د ګډونوالو د زده‌کړو کچه

دویم جدول: په څېړنه کې د ګډونوالو د زده‌کړو کچه

| سلنه | شمېر | سلنه | شمېر | سلنه | شمېر | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ټولټال | | ښځینه | | نارینه | | |
| ١٩.۴٪ | ۵٢ | ۴.۵٪ | ١٢ | ١۴.٩٪ | ۴٠ | لېسانس |
| ٦٦.۴٪ | ١٧٨ | ١۴.٩٪ | ۴٠ | ۵١.۵٪ | ١٣٨ | ماستر |
| ١۴.٢٪ | ٣٨ | ٢.٢٪ | ٦ | ١١.٩٪ | ٣٢ | دوکتورا |
| ١٠٠.٠٪ | ٢٦٨ | ٢١.٦٪ | ۵٨ | ٧٨.۴٪ | ٢١٠ | ټولټال |

دویم جدول ښيي، چې په څېړنه ۵٢ تنه (١٩،۴٪) لېسانس استادانو ګډون کړی دی، چې ۴٠ تنه (١۴،٩٪) يې نارینه او ١٢ تنه (۴،۵٪) تنه يې ښځینه دي. ١٧٨ تنه (٦٦،۴٪) ماستر استادانو ګډون کړی دی، چې ١٣٨ تنه (۵١،۵٪) يې نارینه او ۴٠ تنه (١۴،٩٪) ښځینه دي. ٣٨ تنه (١۴،٢٪) ډُکتور استادانو ګډون کړی دی، چې ٣٢ تنه (١١،٩٪) يې نارینه او ٦ تنه (٢،٢٪) يې ښځینه دي. ټولټال ١٦٨ استادانو ګډون کړی دی، چې ٢١٠ تنه (٧٨،۴٪) يې نارینه او ۵٨ تنه (٢١،٦٪) تنه يې ښځینه دي. شکل ښيي چې په څېړنه کې له نیمايي زيات (٦٦،۴٪)ګډون کوونکي استادان، ماستران دي.

**په څېړنه کې د ګډونوالو تحصیلي رشته**

درېیم جدول: په څېړنه کې د ګډونوالو تحصیلي رشته

| سلنه | شمېر | سلنه | شمېر | سلنه | شمېر | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **ټولټال** | | **ښځینه** | | **نارینه** | | |
| ۵١.٩٪ | ١٣٩ | ١١.٩٪ | ٣٢ | ٣٩.٩٪ | ١٠٧ | ټولنیز علوم |
| ۴٨.١٪ | ١٢٩ | ٩.٧٪ | ٢٦ | ٣٨.۴٪ | ١٠٣ | طبیعي علوم |
| ١٠٠.٠٪ | ٢٦٨ | ٢١.٦٪ | ۵٨ | ٧٨.۴٪ | ٢١٠ | ټولټال |

په درېیم جدول کې ښکاري، چې په څېړنه کې (١٣٩) تنو (۵١.٩٪) د ټولنیزو علومو څانګو استادانو ګډون کړی، چې ١٠٧ تنه (٣٩،٩٪) يې نارینه او ٣٢ تنه (١١،٩٪) يې ښځینه دي. (١٢٩) تنو (۴٨.١٪) د طبیعي علومو څانګو استادانو ګډون کړی دی، چې ١٠٣ تنه (٣٨،۴٪) يې نارینه او ٢٦ تنه (٩،٧٪) يې ښځینه دي. ارقام ښيي چې په څېړنه کې له نیمايي ډېرو، د ټولنیزو علومو اړوند څانګو استادانو ګډون کړی دی.

### په څېړنه کې د ګډونوالو (استادانو) علمي رتبې

څلورم جدول: په څېړنه کې د ګډونوالو علمي رتبې

| سلنه ټولټال | شمېر | سلنه ښځينه | شمېر | سلنه نارينه | شمېر | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵.٦٪ | ۱۵ | ۰.۷٪ | ۲ | ۴.۹٪ | ۱۳ | پوهيالی |
| ۴۲.۹٪ | ۱۱۵ | ۸.٦٪ | ۲۳ | ۳۴.۳٪ | ۹۲ | پوهنيار |
| ۲۵.۰٪ | ٦۷ | ۵.٦٪ | ۱۵ | ۱۹.۴٪ | ۵۲ | پوهنمل |
| ۱٦.۸٪ | ۴۵ | ۵.٦٪ | ۱۵ | ۱۱.۲٪ | ۳۰ | پوهندوی |
| ۴.۵٪ | ۱۲ | ۱.۱٪ | ۳ | ۳.۴٪ | ۹ | پوهنوال |
| ۵.۲٪ | ۱۴ | ۰.۰٪ | ۰ | ۵.۲٪ | ۱۴ | پوهاند |
| ۱۰۰.۰٪ | ۲٦۸ | ۲۱.٦٪ | ۵۸ | ۷۸.۴٪ | ۲۱۰ | ټولټال |

څلورم جدول ښيي، چې په څېړنه کې ۱۵ تنه (۵،٦٪) پوهياليو استادانو ګډون کړی، چې ۱۳ تنه (۴،۹٪) يې نارينه او ۲ تنه (۰،۷٪ ) يې ښځينه دي. ۱۱۵ تنه (۴۲،۹٪) پوهنيار استادانو ګډون کړی، چې ۹۲ تنه (۳۴،۳٪) يې نارينه او ۲۳ تنه (۸،٦٪) يې ښځينه دي. ٦۷ تنه (۲۵،۰٪) پوهنمل استادانو ګډون کړی، چې ۵۲ تنه (۱۹،۴٪) يې نارينه او ۱۵ تنه (۵،٦٪) يې ښځينه دي. ۴۵ تنه (۱٦،۸٪) پوهندوی استادانو ګډون کړی، چې ۳۰ تنه (۱۱،۲٪) يې نارينه او ۱۵ تنه(۵،۷٪) يې ښځينه دی. ۱۲ تنه (۴،۵٪) پوهنوال استادانو ګډون کړی، چې ۹ تنه (۳،۴٪) يې نارينه او ۳ تنه (۱،۱٪) يې ښځينه دي او ۱۳ تنه (۵،۲٪) پوهاند استادانو ګډون کړی، چې ۱۴ ټول نارينه دي. ارقام ښيي چې په څېړنه کې اکثريت ګډون کوونکي پوهنياران دي.

**ب) د اطلاعاتو استنباطي شننه Infrential Descriptive**

د څېړنې په استنباطي شننه کې د استادانو د درسي ټولګي غالب مديريتي سبک معلومولو لپاره له مکررو اندازو تحليل واريانس (Repeated Measures Define Factor) ټېسټ څخه ګټه اخيستل شوې. همداراز، د استادانو د زده‌کړو کچې او علمي رتبې (چې ترتيبي متغييرونه دي) او درسي ټولګي مديريتي سبکونو (مداخله ګر سبک، تعاملي سبک او غير مداخله ګر سبک) ترمنځ د Mean توپير مو د يوې لارې واريانس تحليل(One - Way ANOVA) ټېسټ په‌واسطه معلوم کړی دی. د استادانو د تجربې (چې کمي يا سکېل متغيير دی) او درسي ټولګي مديريتي سبکونو (مداخله ګر سبک، تعاملي سبک او غير مداخله ګر سبک) ترمنځ اړيکه مو د پيرسن اړيکې ضريب(Pearson Correlation) ټېسټ په‌واسطه معلومه کړې ده. په لاندې جدولونو کې په ترتيب سره د استادانو زده‌کړوکچې، علمي رتبې او تجربې، او درسي ټولګي مديريتي سبکونو ترمنځ اړيکه تحليل شوې ده.

**د څېړنې اصلي پوښتنه:** د کابل پوهنتون استادانو د درسي ټولګي غالب مدیریتي سبک کوم دی او د استادانو ځانګړنې د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو سره څه اړیکه لري؟

د استادانو د درسي ټولګي غالب مدیریتي سبک معلوملو لپاره له مکررو اندازو تحلیل واریانس (Repeated Measures Define Factor) ټېسټ ګټه اخیستل شوې ده،؛ پایلې یې په (۵) شمېره جدول کې ښودل شوې دي. د استادانو ځانګړنو او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ اړیکې معلوملو لپاره له مختلفو ټېسټونو څخه ګټه اخیستل شوې ده، چې پایلې یې وروسته جدولونو کې په تفصیل تشریح شوې دي.

پنځم جدول: د کابل پوهنتون استادانو غالب مدیرتي سبک

| غیرمداخله‌گر سبک | مشارکتی سبک | مداخله‌گر سبک | |
|---|---|---|---|
| ۲۵.۸٦۲۹ | ۲۳.۱۵۰۹ | ۲٦.۰۴۲۵ | اوسط |
| ۳.۷۱۸۰۳ | ۳.۳۳٦۰٦ | ۳.۳۹۷٦۹ | معیاري انحراف |

په پورتني جدول کې څرګندېږي چې د مداخله ګر سبک اوسط **۲٦،۰۴** له **۳،۳۹** معیاري انحراف سره، د مشارکتي سبک اوسط **۲۳،۱۵** له **۳،۳۳** معیاري انحراف سره او د غیرمداخله‌ګر سبک اوسط **۲۵،۸۵** له **۳،۷۱** معیاري اوسط سره ترلاسه شوی دی. څرنګه چې د مداخله‌ګر سبک اوسط تر ټولو لوړ دی؛ نو ډېری استادان مداخله‌ګر مدیریتي سبک لري.

**د څېړنې فرعي پوښتنې**

لومړۍ پوښتنه: ایا د زده‌کړو کچې له‌مخې د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبکونه معنالرونکی توپیر لري؟

استادان د زده‌کړو کچې له مخې په دريې ډلو وېشل شوي دي: لېسانس استادان، ماستر استادان او د دوکتورا«PhD» استادان. د استادانو د زده‌کړو کچې او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ د اوسط (Mean) پرتلنې او توپیر لپاره د یو طرفه انووا (One - Way ANOVA) ټېسټ څخه ګټه اخیستل شو پایلې یې په لاندې جدولونو کې ښودل شوې:

شپږم جدول: د زده‌کړو کچې له مخې د استادانو د مدیریتي سبکونو توپیر

| د ټولګي مدیریت سبکونه (C.R Managemnt Styles) | د زده‌کړو کچه (Education Degree) | اوسط (Mean) | معیاري انحراف (Std. Diviation) |
|---|---|---|---|
| | لېسانس | ۲٦.۱۹ | ۲.۲۷ |
| مداخله‌ګر سبک | ماستر | ۲۵.۸۴ | ۲.۷۸ |
| | دُکتور | ۲۵.۴۴ | ۲.۰۴ |
| | لېسانس | ۲۳.۲۳ | ۳.۴۷ |
| تعاملي سبک | ماستر | ۲۳.۳۴ | ۳.۲۹ |
| | دُکتور | ۲۲.۱۸ | ۳.۰۰ |
| | لېسانس | ۲۵.۴٦ | ۳.۴۲ |
| غیرمداخله‌ګر سبک | ماستر | ۲٦.۱۷ | ۳.۷۱ |
| | دُکتور | ۲۴.۲٦ | ۳.۵۳ |

شپږم جدول ښيي، چې په مداخله ګر مدیریتي سبک کې د لېسانس استادانو اوسط(۲٦،۱۹) چې معیاري انحراف یې (۲.۲۷) دی. په ماستر استادانو کې اوسط (۲۵،۸۴) چې معیاري انحراف یې (۲،۷۸) دی او په ډاکتر استادانو کې اوسط (۲۵،۴۴) دی چې معیاري انحراف یې (۲،۰۵) دی. په تعاملي مدیریتي سبک کې دلېسانس استادانو اوسط(۲۳،۲۳) چې معیاري انحراف یې (۳،۴۷) دی. په ماستر استادانو کې اوسط(۲۳،۳۴) چې معیاري انحراف یې (۳،۲۹) دی او په دُکتور استادانو کې اوسط (۲۲،۱۸) دی چې معیاري انحراف یې (۳،۰۰) دی. په غیر مداخله‌ګر مدیریتي سبک کې د لېسانس استادانو اوسط(۲۵،۴٦) چې معیاري انحراف یې (۳،۴۲) دی. په ماستر استادانو کې اوسط(۲٦،۱۷) چې معیاري انحراف یې (۳،۷۱) دی او په ډاکتر استادانو کې اوسط (۲۴،۲٦) دی چې معیاري انحراف یې (۳،۵۳) دی.

اووم جدول: د زده‌کړو کچې له مخې د استادانو د ټولګي مدیریت توپیر

| د ټولګي مدیریت (Class Room Managemnt) | د زده‌کړو کچه (Education Degree) | اوسط (Mean) | معیاري انحراف (Std. Diviation) |
|---|---|---|---|
| | لېسانس | ۷۴،۸۸ | ۷،۳۴ |
| ټولګي مدیریت | ماسټر | ۷۵،۳٦ | ۷،۹۲ |
| | ډُکتور | ۷۱،۸۹ | ٦،٦۷ |

له اووم جدول څخه څرګندېږي، چې د دوکتورا PhD استادانو د ټولګي مدیریت نمرو اوسط له لېسانس او ماسټر استادانو د ټولګي مدیریت نمرو اوسط څخه لږ دی، چې د تعاملي سبک خوا ته تمایل لري. په بل عبارت، ډُکتور استادان تر ډېره تعاملي سبک خواته او ماسټر او لېسانس استادان مداخله‌ګر سبک خوا ته تمایل لري.

اتم شمېره جدول: د استادانو زده‌کړو کچې پر بنسټ د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو د اوسط پرتلنه

| متغییر | | د مربعاتو ټولګه (Sum of Squares) | د مربعاتو اوسط (Mean Square) | ازادۍ درجه (df) | د F کچه (F) | د معنا کچه (Sig) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مداخله‌ګر سبک | د ډلو ترمنځ | ۱۲،۲۵۷ | ٦،۱۲۹ | ۲ | ۰،۹۰٦ | ۰،۴۰۵ NS |
| | د ډلو د ننه | ۱۷۹۳،۰٦۷ | ٦،۷٦٦ | ۲٦۵ | | |
| | ټولټال | ۱۸۰۵،۳۲۵ | | ۲٦۷ | | |
| تعاملي سبک | د ډلو ترمنځ | ۴۲،۷۵ | ۲۱،۳۷ | ۲ | ۱،۹۷ | ۰،۱۴۱ NS |
| | د ډلو د ننه | ۲۸۷۵،۳۴ | ۱۰،۸۵ | ۲٦۵ | | |
| | ټولټال | ۲۹۱۸،۱۰ | | ۲٦۷ | | |
| غیرمداخله‌ګر سبک | د ډلو ترمنځ | ۱۲۰،۲۹ | ٦۰،۱۴ | ۲ | ۴،۵۵ | ۰،۰۱۱ S |
| | د ډلو د ننه | ۳۵۰۱،۸۹ | ۱۳،۲۱ | ۲٦۵ | | |
| | ټولټال | ۳٦۲۲،۱۹ | | ۲٦۷ | | |

د اتم جدول پر بنسټ کولای شو ووایو، چې د درسي ټولګي د مداخله ګر مدیریتي سبک د ټولو مربعاتو مجموعه ۱۸۰۵،۳۲۵ په لاس راغلې ده. د ډولو ترمنځ یې د مربعاتو اوسط (۱۲،۲۵۷) او د د ډلو دننه یې د مربعاتو اوسط (۱۷۹۳،۰٦۷) په لاس راغلی دی، چې دا کچې د ازادۍ درجې د(۲ او ۲٦۵) او F کچه کې (۰،۴۰۵) معنا کچه کې معنا لرونکی په لاس نه دی راغلی. د ډلو ترمنځ توپیر معلومولو لپاره له (LSD) تعقیبي ټېسټ څخه ګټه اخیستل شوې ده. د درسي ټولګي د تعاملي مدیریتي

سبک د ټولو مربعاتو مجموعه (۲۹۱۸،۱۰) په لاس راغلې ده. د ډولو ترمنځ یې د مربعاتو اوسط (۴۲،۷۵) او د د ډلو دننه یې د مربعاتو اوسط (۱۷۹۳،۰۶) په لاس راغلی دی، چې دا کچې د ازادۍ درجې د(۲ او ۲۶۵) او F کچه کې د (۰،۱۴۱) معنا کچه کې معنا لرونکی په لاس نه دی راغلی. د ډلو ترمنځ توپیر معلومولو لپاره له (LSD) تعقیبي ټېسټ څخه ګټه اخیستل شوې ده. د درسي ټولګي د غیرمداخله‌ګر مدیریتي سبک د ټولو مربعاتو مجموعه (۳۶۲۲،۱۹) په لاس راغلې ده. د ډلو ترمنځ یې د مربعاتو اوسط (۱۲۰،۲۹) او د ډلو دننه یې د مربعاتو اوسط (۳۵۰۱،۸۹) په لاس راغلی دی، چې دا کچې د ازادۍ درجې د(۲ او ۲۶۵) او Fکچه کې د (۰،۰۱۱) معنا کچه کې معنا لرونکی په لاس راغلی دی. د ډلو ترمنځ توپیر معلومولو لپاره له (LSD) تعقیبي ټېسټ څخه ګټه اخیستل شوې؛ پایلې یې په (۱۵) شمېره جدول کې ښودل شوې دي.

نهم شمېره جدول: د استادانو زده‌کړو کچې پر بنسټ د درسي ټولګي مدیرتي سبکونو د اوسط پرتلنه

| متغییر | | د مربعاتو ټولګه (Sum of Squares) | د مربعاتو اوسط (Mean Square) | ازادۍ درجه (df) | د ایف کچه (F) | د معنا کچه (Sig) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ټولګي مدیریت | د ډلو ترمنځ | ۳۷۷،۸۶۱ | ۱۸۸،۹۳۰ | ۲ | | |
| | د ډلو د ننه | ۱۵۵۳۰،۱۵۱ | ۵۸،۶۰۴ | ۲۶۵ | ۳،۲۲۴ | ۰،۰۴۱ |
| | ټولټال | ۱۵۹۰۸،۰۱۱ | | ۲۶۷ | | |

د نهم جدول څخه څرګندېږي، چې د ټولګي مدیریت د ټولټال مربعاتو مجموعه ۱۵۹۰۸،۰۱۱ په لاس راغلې ده، چې د ډلو ترمنځ یې د مربعاتو اوسط ۱۸۸،۹۳۰ او د ډلو دننه یې د مربعاتو اوسط ۵۸،۶۰۴ په لاس راغلی دی. یادې کچې د ۲ او ۲۶۵ ازادۍ درجې او په لاس راغلې (F) کچه کې، ۰،۰۴۱ معنالرونکی په لاس راغلی دی. د ډلو ترمنځ توپیر معلومولو لپاره له (LSD) تعقیبي ټېسټ څخه ګټه اخیستل شوې؛ پایلې یې په وروسته جدولو کې راغلې.

دویمه پوښتنه: ایا د استادانو د علمي رُتبو او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ معنا لرونکی توپیر شته؟

په دې څېړنه کې شامل استادان شپږ علمي رتبې لري، چې عبارت دي له: پوهیالی، پوهنیار، پوهنمل، پوهندوی، پوهنوال او پوهاند. د استادانو د علمي رتبو او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ د اوسط (Mean) پرتلنې او توپیر معلومولو لپاره د یو طرفه انووا (One - Way ANOVA) ټېسټ څخه ګټه اخیستل شوې‌ده. لاندې جدولو کې د (One - Way ANOVA) ټېسټ پایلې ښودل شوې دي.

لسم جدول: د يو طرفه انووا تحليل ټېسټ پايلې

| درسي ټولګي مديريت سبکونه (C.R Managemnt Styles) | د زده‌کړو کچه (Education Degree) | اوسط (Mean) | معياري انحراف (Std. Diviation) |
|---|---|---|---|
| مداخله‌گر سبک | پوهيالی | ۲۵.۴٦ | ۲.۵۳ |
| | پوهنيار | ۲۵.۷۲ | ۲.٦۳ |
| | پوهنمل | ۲٦.۳۵ | ۲.۲٦ |
| | پوهندوی | ۲۵.۲۰ | ۲.۸۰ |
| | پوهنوال | ۲٦.۵۸ | ۳.۳۴ |
| | پوهاند | ۲٦.۴۲ | ۲.۲۰ |
| تعاملي سبک | پوهيالی | ۲۲.۱۳ | ۳.٦۴ |
| | پوهنيار | ۲۳.۰۰ | ۳.۲۲ |
| | پوهنمل | ۲۳.۴۱ | ۳.۳۰ |
| | پوهندوی | ۲۳.۴۰ | ۳.۵۱ |
| | پوهنوال | ۲۳.۱٦ | ۳.۳۲ |
| | پوهاند | ۲۳.۵۷ | ۳.۲۹ |
| غيرمداخله‌گر سبک | پوهيالی | ۲۵.۲۰ | ۳.۲۳ |
| | پوهنيار | ۲۵.۹۴ | ۳.۵۳ |
| | پوهنمل | ۲۵.۹۸ | ۳.۷۰ |
| | پوهندوی | ۲۵.۲۲ | ۴.۰۳ |
| | پوهنوال | ۲٦.۴۱ | ۴.۹۸ |
| | پوهاند | ۲۵.۰۰ | ۲.۹۳ |

يولسم جدول: د يو طرفه انووا تحليل ټېسټ پايلې

| د درسي ټولګي مديريت (Class Room Managemnt) | د زده‌کړو کچه (Education Degree) | اوسط (Mean) | معياري انحراف (Std. Diviation) |
|---|---|---|---|
| ټولګي مديريت | پوهيالی | ۷۲.۸۰ | ۷.۸۳ |
| | پوهنيار | ۷۴.٦٦ | ۷.۵۹ |
| | پوهنمل | ۷۵.۷٦ | ۷.۳۱ |
| | پوهندوی | ۷۳.۷۲ | ۸.۵۴ |
| | پوهنوال | ۷٦.۱٦ | ۹.۰۱ |
| | پوهاند | ۷۵.۰۰ | ۷.۰۱ |

له یولسم جدول څخه څرګندیږي، چې د پوهیالي استادانو د ټولګي مدیریت نمرو اوسط ۷۲،۸۰ دی او معیاري انحراف یې ۷،۸۳ دی. د پوهنیار استادانو اوسط ۷۴،٦٦ دی او معیاري انحراف یې ۷،۵۹ دی. د پوهنمل استادانو اوسط ۷۵،۷٦ دی او معیاري انحراف یې ۷،۳۱ دی. د پوهندوی استادانو اوسط ۷۳،۸۲ دی او معیاري انحراف یې ۸،۵۴ دی. د پوهنوال استادانو اوسط ۷٦،۱٦ دی او معیاري انحراف یې ۹،۰۱ دی او د پوهاند استادانو اوسط ۷۵،۰۰ دی، چې معیاري انحراف یې ۷،۰۱ دی. معنا دا چې د پوهیالي، پوهنیار او پوهندوی استادانو د ټولګي مدیریت نمرو اوسط له پوهنمل، پوهنوال او پوهاند استادانو د درسي ټولګي نمرو اوسط څخه لږ دی او د تعاملي سبک خوا ته تمایل لري. په بل عبارت، پوهیالي، پوهنیار او پوهندوی استادان ډېری تعاملي سبک لري او پوهنمل، پوهنوال او پوهاند استادان ډېری مداخله سبک لري.

دولسم جدول: د استادانو علمي رتبو پر بنسټ د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو د اوسط پرتلنه

| متغیر | | د مربعاتو ټولګه (Sum of Squares) | د مربعاتو اوسط Mean) (Square | ازادۍ درجه (df) | د ایف کچه (F) | د معنا کچه (Sig) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مداخله‌ګر سبک | د ډلو ترمنځ | ۱۲.۵۴ | ۱۰.۳۰۹ | ۲ | 1.540 | ۰،۱۷۸ NS |
| | د ډلو د ننه | ۱۷۵۳.۷۷ | ٦.٦۹۴ | ۲٦۲ | | |
| | ټولټال | ۱۸۰۵.۳۲ | | ۲٦۷ | | |
| تعاملي سبک | د ډلو ترمنځ | ۲۸.۱۷ | ۵.٦۳۵ | ۲ | ۰،۵۱۱ | ۰،۷٦۸ NS |
| | د ډلو د ننه | ۲۸۸۹.۹۲ | ۱۱.۰۳۰ | ۲٦۵ | | |
| | ټولټال | ۲۹۱۸.۱۰ | | ۲٦۷ | | |
| غیرمداخله‌ګر سبک | د ډلو ترمنځ | ۳۸.۴۲ | ۷.٦۸۵ | ۲ | ۰،۵٦۲ | ۰،۷۲۹ NS |
| | د ډلو د ننه | ۳۵۸۳.۷٦ | ۱۳.٦۷۸ | ۲٦۵ | | |
| | ټولټال | ۳٦۲۲.۱۹ | | ۲٦۷ | | |

د دولسم جدول پر بنسټ، د درسي ټولګي د مداخله ګر مدیریتي سبک د ټولو مربعاتو مجموعه (۱۸۰۵،۳۲۵)په لاس راغلې ده. د ډلو ترمنځ یې د مربعاتو اوسط (۱۲،۵۴۷) او د ډلو دننه یې د مربعاتو

اوسط (٦،٦٩۴) په لاس راغلی دی، چې دا کچې د ازادۍ درجې د(۲ او ۲٦۵) او F کچه کې یې د معنا کچه (۰،۱۷۸) معنا لرونکی په لاس نه‌ده راغلې. د درسي ټولګي د تعاملي مدیریتي سبک د ټولو مربعاتو مجموعه (۲۹۱۸،۱۰۱) په لاس راغلې ده. د ډلو ترمنځ یې د مربعاتو اوسط (۲۸،۱۷۴) او د ډلو دننه یې د مربعاتو اوسط (۲۸۸۹،۹۲۷) په لاس راغلی دی، چې دا کچې د ازادۍ درجې د(۲ او ۲٦۵) او F کچه کې یې د معنا کچه (۰،۷٦۸) معنا لرونکې په لاس نه‌ده راغلې. د درسي ټولګي د غیرمداخله‌گر مدیریتي سبک د ټولو مربعاتو مجموعه (۳٦۲۲،۱۹۰) په لاس راغلې ده. د ډلو ترمنځ یې د مربعاتو اوسط (۳۸،۴۲۴) او د ډلو دننه یې د مربعاتو اوسط (۳۵۸۳،۷٦٦) په لاس راغلی دی، چې دا کچې د ازادۍ درجې د(۲ او ۲٦۵) او F کچه کې یې د معنا کچه (۰،۷۲۹) معنا لرونکې په لاس نده راغلې. د ډلو ترمنځ توپیر معلومولو لپاره له (LSD) تعقیبي ټېسټ څخه ګټه اخیستل شوې‌ده؛ پایلې یې په (23) شمېره جدول کې ښودل شوې دي.

دیارلسم جدول: د استادانو علمي رتبو له مخې د ټولګي مدیریت اوسط پرتلنه

| متغیر | | د مربعاتو ټولګه (Sum of Squares) | د مربعاتو اوسط Mean ) (Square | ازادۍ درجه (df) | د ایف کچه (F) | د معنا کچه (Sig) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ټولګي مدیریت | د ډلو ترمنځ | ۱۸۹.۷۴ | ۳۷.۹۴ | ۲ | ۰،٦۳۳ | ۰،٦۷۵ NS |
| | د ډلو د ننه | ۱۵۷۱۸.۲٦ | ۵۹.۹۹ | ۲٦۲ | | |
| | ټولټال | ۱۵۹۰۸.۰۱۱ | | ۲٦۷ | | |

د دیارلسم جدول پر بنسټ، کولای شو، ووایو چې د ټولګي مدیریت د ټولو مربعاتو مجموعه (۱۵۹۰۸،۰۱۱) په لاس راغلې ده. د ډلو ترمنځ یې د مربعاتو اوسط (۳۷،۹۴۹) او د ډلو دننه یې د مربعاتو اوسط (۵۹،۹۹۳) په لاس راغلی دی. دا کچه د آزادۍ درجې د (۲ او ۲٦۵) او F کچه کې د معنا په ۰،٦۷۵ کچه کې معنالرونکی نه‌دی.

دریمه پوښتنه: ایا د استادانو د خدمت مودې(تجربې) او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ معنالرونکې اړیکه شته؟

دغه متغیر په څېړنه کې کمي تیت‌والی درلود، له همدې امله د ټېسټ لپاره یې کته‌ګوري ګټوره او مناسبه نه وه(په برخو و نه وېشل شو). په پایله کې د استادانو د خدمت وخت او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو(مداخله‌گر سبک، تعاملي سبک او غیرمداخله‌گر سبک) ترمنځ اړیکې معلومولو لپاره له پیرسون اړیکې مېتود څخه کار واخیستل شو؛ پایلې یې په (۱۵) جدول کې ښودل شوې دي.

څلورلسم جدول: د استادانو د خدمت وخت او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ اړیکه

| متغیرونه | اوسط | معیاري انحراف | د پیرسون ضریبونه | د معنا کچه |
|---|---|---|---|---|
| خدمت وخت | ۱۲،۱۱ | ۱۰،۲۱ | | |
| مداخله‌ګر سبک | ۲۵،۸۵ | ۲،۶۰ | ۰،۰٦۴ | ۰،۳۰۰ |
| تعاملي سبک | ۲۳،۱٦ | ۳،۳۰ | ۰،۰۲٦ | ۰،٦۷۳ |
| غیر مداخله‌ګر | ۲۵،۷٦ | ۳،٦۸ | -۰،۰۵۷ | ۰،۳۵۲ |

د څلورلسم جدول د پایلو پر بنسټ، کولای شو ووایو چې د خدمت مودې اوسط(۱۲،۱۱) د (۱۰،۲۱) معیاري انحراف سره او د مداخله ګر سبک اوسط (۲۵،۸۵) د (۲،٦۰) معیاري انحراف سره په لاس راغلی، چې د دغه دوو متغیرونو ترمنځ اړیکې ضریب (۰،۰٦۴) دی او د معنا کچه یې (۰،۳۰۰) ده، چې معنالرونکې نه‌ده. همدا راز، د خدمت وخت اوسط(۱۲،۱۱) د (۱۰،۲۱) معیاري انحراف سره او د تعاملي سبک اوسط(۲۳،۱٦) د (۳،۳۰) معیاري انحراف سره په لاس راغلی، چې د اړیکې ضریب یې (۰،۰۲٦) او د معنا کچه یې (۰،٦۷۳)ده، چې معنالرونکې نه‌ده. بلاخره، خدمت مودې اوسط(۱۲،۱۱) د (۱۰،۲۱) معیاري انحراف سره او د غیرمداخله‌ګر سبک اوسط (۲۵،۷٦) د (۳،٦۸) معیاري انحراف سره په لاس راغلی، چې د اړیکې ضریب یې (-۰،۰۵۷) او د معنا کچه یې (۰،۳۵۲) ده. په پایله کې ویلای شو چې د استادانو د خدمت مودې او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ معنالرونکې اړیکه نشته.

## د څېړنې موندنې

د څېړنې پایلې ښیي چې د کابل پوهنتون استادانو د درسي ټولګي غالب مدیریتي سبک، مداخله‌ګر سبک دی. د دُکتور استادانو د ټولګي مدیریت نمرو اوسط له لیسانس او ماستر استادانو د ټولګي مدیریت نمرو اوسط څخه لږ دی، چې د تعاملي سبک خواته تمایل لري. یعنې دُکتور استادان تر ډېره تعاملي سبک خواته او ماستر او لیسانس استادان مداخله ګر سبک خواته تمایل لري. د پوهیالي، پوهنیار او پوهندوی استادانو د ټولګي مدیریت نمرو اوسط له پوهنمل، پوهنوال او پوهاند استادانو د درسي ټولګي نمرو اوسط څخه لږ دی او د تعاملي سبک خوا ته تمایل لري. په دې معنی چې پوهیالي، پوهنیار او پوهندوی استادان ډېری تعاملي سبک لري او پوهنمل، پوهنوال او پوهاند استادان ډېری مداخله سبک لري. د استادانو د خدمت وخت او درسي ټولګي مدیریتي سبکونو ترمنځ معنالرونکې اړیکه شتون نه لري.

## مناقشه

د څېړنې موندنې ښیي چې د کابل پوهنتون استادانو د درسي ټولګي غالب مدیریتي سبک، مداخله‌ګر سبک دی، یعنې ډېری استادان له مداخله مدیریتي سبک څخه کار اخلي. د څېړنې دا موندنه د عالي او یزدي څېړنې له موندنې سره ورته ده. هغوی په کال ۱۳۸۷ کې په ایران هېواد، مشهد ښار کې «د

ټولګي پر مديريتي سبک د معلم ځانګړنو اغېز» تر سرليک لاندې څېړنه ترسره کړې ده، پايلې يې ښيي، چې اکثريت ښوونکي مداخله سبک خوا ته تمايل لري. په دې معنا چې د ښوونکيو غالب مديريتي سبک، مداخله‌ګذ سبک دی(عالي او يزدي، ۱۳۸۷، ۱۲۳ مخ). خو د څېړنې ياده موندنه، د کاظمی، سيما؛ محمدي، يحيی او رئيسون، محمد رضا د څېړنې له موندنې سره توپير لري. هغوی په کال (۱۳۹۴) کې په ايران هېواد کې (د محصلانو له نظره د بيرجند طبي علومو پوهنتون استادانو د ټولګي مديريتي وضعيت څېړنه» تر سرليک لاندې څېړنه کړې؛ پايلې يې ښيي، چې ډېری استادانو له تعاملي سبک څخه ګټه اخيسته(کاظمي او همکاران، ۱۳۹۴، ۳۱ مخ).

د لومړۍ پوښتنې په اړه د څېړنې پايلې ښيي، چې ډُکتور استادان تر ډېره تعاملي سبک خوا ته او ماستر او لېسانس استادان مداخله‌ګر سبک خوا ته تمايل لري. د څېړنې دا موندنه، د عالي او يزدي د څېړنې سره ورته والي لري. هغوی په کال ۱۳۸۷ کې په ايران هېواد، مشهد ښار کې «د ټولګي پر مديريتي سبک د ښوونکي ځانګړنو اغېز» تر سرليک لاندې څېړنه ترسره کړې ده؛ پايلې يې ښيي د زده‌کړو کچې پر بنسټ د ښوونکيو د درسي ټولګي مديريتي سبک ترمنځ معنالرونکی توپير شتون درلود؛ يعنې دلېسانس ښوونکي تر ډېره د ټولګي د تعاملي سبک خوا ته تمايل لري، په داسې حال کې چې دوولس پاس زده‌کړو لرونکي ښوونکي مداخله ګر سبک خواته تمايل لري (عالي او يزدي، ۱۳۸۷، ۱۲۴مخ). په دې معنا چې د دواړو څېړنو موندنې ښيي، چې د لوړو زده‌کړو لرونکي استادان د تعاملي سبک خوا ته تمايل لري. همداراز، د څېړنې موندنه، د ظريفي او فرجي د څېړنې د موندنې سره ورته ده. هغوی په کال ۱۳۹۳ کې په آذربايجان کې «د شرقي آذربايجان په ابتدايه او متوسطه دورو کې د بدني روزنې ښوونکيو د درسي ټولګي مديريت پرتلنه» ترسرليک لاندې څېړنه ترسره کړې ده؛ پايلې يې ښيي، چې د څوارلس پاس، لېسانس او ماستر ښوونکيو مديريتي سبکونه توپير لری. د څوارلس پاس زده‌کړو لرونکي ښوونکي تر ډېره تعاملي او مداخله ګر سبکونه کاروي او ماستري زده‌کړو لرونکي ښوونکي ډېری تعاملي او غير مداخله ګر سبکونو خوا ته تمايل لري(ظريفي او رضا، ۱۳۹۳؛۴۰، ۴٦ مخونه). لنګرودي او سلېماني (۱۳۹۲) په خپله څېړنه کې وښوده، چې د زده‌کړو کچې له مخې هم د ښوونکيو د درسي ټولګي مديريتي سبک توپير معنا لرونکی دی؛ په دې معنا چې لېسانس ښوونکي د دوولس پاس او څوارلس پاس ښوونکيو په نسبت تعاملي سبک ته ډېر تمايل لري(لنګرودي او سلېماني، ۱۳۹۲، ۱۱۵مخ). خو د څېړنې موندنه، د سيد عباس(۱۳۷۴) د څېړنې له موندنې سره توپير لري. هغه په خپله څېړنه کې ومونده، هر څومره چې د ښوونکي د زده‌کړو کچه لوړه وي، په همغه کچه پر ټولګي لږ

کنټرول اعمالوي او زده‌کوونکي په کړنو کې ازاد پرېږدي؛ یعنې له غیر مداخله گر سبک څخه گټه اخلي( مهر او همکاران، ۱۳۹۴، ۱۸۰ مخ).

د دویمې پوښتنې په اړه د څېړنې پایلې ښیي، چې پوهیالي، پوهنیار او پوهندوی استادان ډېری تعاملي سبک لري او پوهنمل، پوهنوال او پوهاند استادان ډېری مداخله سبک لري. دا موندنه، د جعفري او همکارانو(۱۳۹٦) د څېړنې له موندلو سره ورته ده. هغوی په کال ۱۳۹٦ کې په ایران کې(دعلمي هیئت غړو د درسي ټولگي مدیریت لرلید او درسي ټولگي مدیریتي وړتیا اړیکې د جوړښت نمونه) تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې، پایلې یې ښیي، چې د استادانو د ټولگي مدیریت او علمي رتبې ترمنځ مثبته او معنالرونکې اړیکه شتون لري(جعفري او همکاران، ۱۳۹٦، ۱٦ مخ).

د درېیمې پوښتنې په اړه د څېړنې پایلې ښیي، چې د استادانو د خدمت وخت او درسي ټولگي مدیریتي سبک ترمنځ معنالرونکې اړیکه نه‌شته. د څېړنې دا موندنه د عالي او یزدي څېړنې له موندنې سره ورته ده. هغوی په کال ۱۳۸۷ کې په ایران هېواد، مشهد ښار کې «د ټولگي پر مدیریتي سبک د ښوونکي ځانگړنو اغېز» تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې ده. پایلې یې ښیي، چې د درسي ټولگي مدیریت سبک او ښوونکیو د خدمت وخت ترمنځ معنا لرونکې اړیکه شتون نه‌لري(عالي او یزدي، ۱۳۸۷، ۱۰۳مخ). خو د څېړنې دا موندنه، د سید عباس(۱۳۷۴) د څېړنې له موندنې سره توپیر لری. هغه په خپله څېړنه کې ومونده، هر څومره چې د ښوونکي د کار سابقه لوړه وي، په همغه کچه پر ټولگي لږ کنټرول اعمالوي او زده کوونکیو ته په کړنو کې ډېره ازادي ورکوي؛ په دې معنا چې له غیر مداخله گر سبک څخه گټه اخلي او زده‌کوونکي ازاد پرېږدي( مهر او همکاران، ۱۳۹۴، ۱۸۰مخ).

همداراز، د څېړنې موندنه، د مهر، کریم زاده او ناظم څېړنې له موندنې سره توپیر لري. هغوی په کال ۱۳۹۴ کې «د خوی ښار مدیرانو او ښوونکیو د درسي ټولگي پر مدیریت د اغېزناکو عواملو پېژندنه« تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې؛ پایلې یې ښیي، چې د ښوونکیو د کار سابقه د درسي ټولگي پر مدیریتي سبکونو معنا لرونکی اغېز لري( مهر او همکاران، ۱۳۹۴، ۱۸۰ مخ). او د څېړنې موندنه، د مارټین او شوهو(۲۰۰۳) د څېړنې له موندنې سره توپیر لري. هغوی «د ښوونکي پر مدیریتي سبکونو د خدمت سابقې او سن اغېز» څېړلی دی. د پایلو تحلیل ښودلې چې سابقه لرونکي ښوونکي د کم سابقه لرونکو ښوونکیو په نسبت د ټولگي مدیریت برخه کې ډېر کنټرول اعمالوي.

**پایله اخیستنه**

دغه څېړنه چې (د استادانو ځانگړنو او درسي ټولگي مدیریتي سبکونو ترمنځ اړیکه څېړل) تر سرلیک لاندې په کابل پوهنتون کې ترسره شوې، د استادانو ځانگړنو له ډلې څخه د هغوی دموگرافیکي ځانگړنې په پام کې نیول شوې دي، چې عبارت دي له: جنست، زده‌کړو کچه، علمي رتبه او زده‌کړو

ځانګه. د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو په اړه د ولفګانګ او ګلیکمن له نظره، د درسي ټولګي مدیریتي سبکونه راوړل شوي دي، چې عبارت دي له: مداخله‌ګر سبک، غیر مدخله‌ګر سبک او تعاملي سبک.

په مداخله‌ګر سبک کې ښوونکی د زده کوونکیو پر فعالیتونو او کړنو کنټرول لري. په دغه سبک کې ټول تصمیمونه ښوونکی نیسي. زده‌کوونکي د زده‌کړې په بهیر کې هېڅ واک او مسئولیت نه احساسوي او په دې اند دي، چې یوازې ښوونکی کولای شي د هغوی کړنې کنټرول، څار«نظارت» او اصلاح کړي. یاد سبک په بشپړ ډول معلم محور دی. په تعاملي سبک کې، ښوونکی فعالیتونه نه معلم محور دي او نه هم شاګرد محور، بلکې مرسته محور دي. په بل عبارت، د تعاملي سبک پر بنسټ، په درسي ټولګي کې د کار اصلي محور او بنسټیز اصل د ښوونکي او زده‌کوونکي ترمنځ مرسته او ګډون دی. په غیرمداخله‌ګر سبک کې، ښوونکی زده کوونکیو ته مسئوولیتونه ورسپاري او هغوی آزاد پرېږدي. البته دا د مطلقې آزادۍ په معنا نه ده، بلکې زده کوونکیو ته اجازه ورکوي چې د مطالعې موادو په ټاکنه، د مطالعې او تدریس مېتود په تعیینولو او ټولګي نظم ساتلو کې ګډون ولري.

د څېړنې موندنو وښوده، چې د کابل پوهنتون استادانو غالب مدیریتي سبک، مداخله ګر سبک دی. په دویم قدم کې له غیرمداخله ګر مدیریتي سبک څخه او په دریم قدم کې له تعاملي مدیریتي سبک څخه کار اخلي. د استادانو زده‌کړو کچې پر بنسټ د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو توپیر برخه کې پایلو وښوده، چې ډُکتور استادان تر ډېره تعاملي مدیریتی سبک خوا ته او ماسټر او لیسانس استادان تر ډېره مداخله‌ګر مدیریتي سبک لور ته تمایل لري. د علمي رتبې له مخې د استادانو د درسي ټولګي مدیریتي سبکونو توپیر درلود. په دې معنا چې پوهیالي، پوهنیار او پوهندوی استادان ډېری تعاملي سبک لري او پوهنمل، پوهنوال او پوهاند استادان ډېری مداخله ګر سبک خوا ته تمایل لري. په ټوله کې د دې څېړنې د اهمیت وړ پایلې دا دي، چې په کابل پوهنتون کې اوس تر ډېره په درسي ټولګیو کې د استادانو لخوا مداخله‌ګر(استاد محور) مدیریتي سبک حاکم دی. دوکتورا استادان تعاملي او ماسټری او لیسانس استادان په ترتیب مداخله‌ګر سبک لري. د علمي رتبې له نظره، پوهیالي، پوهنیار او پوهندوی استادان ډېری له تعاملي سبک څخه ګټه اخلي؛ خو د پوهنمل، پوهنوال او پوهاند استادان بیا مداخله‌ګر سبک ته تمایل لري. د خدمت مودې (تجربې) او درسي ټولګي مدیریتي سبک ترمنځ معنالرونکې اړیکه شتون نه درلود.

**سرچینې**

افشارنیا، معصومه؛ عباسی، رضا او دسترنج، مرتضی. (۱۳۹۷). بررسی مدیریت کلاس درس و روش کلاس‌داری معلمان در مدارس ومراکز آموزشی. دو ماهنامه علمی تخصصی تحقیق در هنر و علوم انساني، سال سوم، شماره۲، جلد دو.

بخشایش، علیرضا. (۱۳۹۲). رابطه سبک های مدیریت کلاس با ویژگی های شخصیتی معلمان مدارس ابتدایی یزد. فصل‌نامه علمی –تحقیقی رهیافتی در مدیریت آموزشی، سال چهارم، شماره دوم، صص ۱۸۵ – ۱۹۸.

جعفري، اسماعیل؛ خراساني، اباصلت او عبدي، حمید. (۱۳۹٦). الگوی ساختاري رابطه ی شایستګي و خودکارآمدي مدیریتي درس و نگرش مدیریت کلاس درس در اعضای هیأت علمي. مجله ی توسعه ی آموزش در علوم پزشکی. دوره ۱۰، شماره ۲٦، صص ۱۰- ۲۳.

جویس، بروس وویل، مارشا. (۱۳۷٦). الگوهای جدید تدریس. ترجمه، بهرنګي، محمد رضا. تهران: نشر تابان.

رضایت، غلامحسین او ګلي، حسن. (۱۳۹۵). رابطه بین خود کارآمدی با سبک مدیریت کلاس اعضای هیئت علمی دانشگاه ها و مؤسسات آموزش عالي(مطالعه موردی؛ یکی از مراکز آموزش عالی نیروهای مسلح. فصل‌نامه روانشناسی نظامي، دوره ۷، شماره ۲۵. صص ۵۱-٦٦.

سید عباس، میرمحمد. (۱۳۷۴). معلمان و روش های کنترل کلاس. مجله علوم تربیتی دانشگاه تهران، شماره ۱۵، ص۱۲.

سیف، علی اکبر. (۱۳۸۸). روانشناسی پروزشی(روانشناسی یادگیری و آموزش). تهران: انتشارات آگه.

شمس، غلامرضا. (۱۳۹٦). مبانی و اصول مدیریت آموزشی. تهران: انتشارات سازمان مطالعه و تدوین(سمت).

ظریفي، مجتبی او فرجي، رضا. (۱۳۹۳). مقایسه شیوه مدیریت و کلاس داری معلمان تربیت بدنی در مقاطع تحصیلي ابتدایی، راهنمایی و متوسطه استان آذربایجان شرقي. مجله علوم کاربردی ورزش و تندرستي. شماره ۱، صص ۴۰-۴۸.

عالي، آمنه او امین یزدي، امیر. (۱۳۸۷). تاثیر ویژګی های معلم بر سبک مدیریت کلاس. فصل‌نامه تعلیم و تربیت. شماره ۳۹. صص ۱۰۳- ۱۳۵.

غیاثوندیان، شهزاد؛ ورعي، شکوه؛ یادګاري، محمد علي؛ رحیمي، اکبر پور او جانلو، علي آقا. (۱۳۹٦). مدیریت کلاس درس برای آموزش محصلان بی انگیزه. مجلهٔ مرکز مطالعات و توسعه آموزش علوم پژشکي یزد. دوره دوازدهم، شماره ۱ و ۳، صص ۱۳- ۲٦.

کاظمی، سیما؛ محمدي، یحیی او رئیسون، محمد رضا. (۱۳۹۴). بررسی وضعیت مدیریت کلاس اساتید دانشگاه علوم پزشکی بیرجند از دیدگاه محصلان. تحقیق در آموزش علوم پزشکی، شماره ۷.

لنګرودي، کاظم علوي او سلېماني، زهرا. (۱۳۹۲). مقایسه باورها و نگرش‌ها معلمان پیرامون مدیریت کلاس با توجه به ویژګي‌های دموګرافیک. فصل‌نامه علمی –تحقیقی رهیافتی نو در مدیریت آموزشی، شماره ۲، تابستان ۹۲. صص ۱۱۵-۱۳٦.

محمودي، محمد تقي؛ خادمي، بهناز او الله ګاني، فریبا. (۱۳۹٦). بررسی و شناسایی شیوه های مؤثر ایجاد مدیریت و انضباط کلاس. مطالعات آینده پژوهی و سیاستګذاری. دوره ۳، شماره ۳، صص ۱۷- ۲۸.

مرتضوي زاده، حشمت الله.s (۱۳۹۲). راهنمایی تدریس. تهران: انتشارات عابد.

مصرابادي، جواد. (۱۳۹۴). نقش سبک های تدریس معلمان بر میزان بی انضباطی های دانش آموزان: تحلیل مبتنی بر شخص. فصل‌نامه علمي –تحقیقی رهیافتی نو در مدیریت آموزشی، سال ششم، شماره دوم، صص ۱۸۹- ۲۰۵.

مهر، محمد وفايي؛ کريم زاده، صمد او ناظم، فتاح. (۱۳۹۴). شناسایی عوامل مؤثر بر مديريت کلاس معلمان و مديران شهرستان خوی. فصل‌نامه علمی – تحقیقی تحقیقات مدیریت آموزشی، سال هفتم، شماره اول، صص ۱۶۹-۱۸۴.

ولفگانگ، چارلز اچ. (۱۳۹۳). حل مسایل بی انضباطي و مديريت صنف (روش‌ها و الگوها برای معلمان). مترجمان، اسدپور، ساسان او واسو کلايي، سيد رمضاني. تهران: انتشارات مدرسه.

Adeyemo, S. A. (2012). The relationship between effective classroom management and students' academic achievement. *European Journal of Educational Studies*, 4(3), 367-381.

Ali A. [Impact of teacher characteristics on classroom management style. Quarterly Education] (Education); 2007. [Persian]

Fontana D.[Classroom control: understanding and quiding classroom behaviour].Translated byHamzeh S ,Mohammadi M.Tehran:Roshd; 2003. [Persian]

Haghani F, Chavoshi E, Valiani A, Yarmohammadian M. Teaching Styles of Teachers in Basic Sciences Classes in Medical School of Isfahan University of Medical Sciences. Iranian Journal of Medical Education. 2011; 10 (5), pp934-949. [Persian]

Martin, N. K. & Yin, Z. Belief Regarding Classroom Management Styles: Different Between Urban and Rural Secondary Level Teachers. Journal of Research in Rural Education, 15 (2) PP 1-5).

Martin, N. K., & Y, Z. (1999). Belief Regarding Classroom Management, Middle School. Journal 28, (4), PP 3-9.

Martin, N. K., Shoho, A. & Yin, Z. (2003). Attitude & Beliefs Regarding Classroom Management Styles: The impact of Teacher preparation vs. Experience. Research in the school. 10(2), 29-34

Nakammura, Raymond M. (2000). *Healthy Classroom Management*. Wadsworth /Thomson Learning. Canada.

Pithers, R. T., & Soden, R. (1998). Scottish and Australian teacher stress and strain: A comparative study. *British Journal of Educational Psychology*, 68, pp269–279.